عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۸/۲۰

# اعليحضرت محمد نادرشاه

خلورمه برخه او پای

## د غلام نبي خان چرخي له وژل کېدلو وروسته سياسي وضع:

د غلام نبي خان چرخي له وژل کېدلو سره، د ډله ايزو بندي کېدلو او اعدامونو سلسله پيل سوه او د عمومي جنګ تر پايه پوري يي په لړ او ډېره پيمانه دوام وکړ. په مقابل کي د نادرخان د کورنی مخالفينو او د امان الله خان طرفدارانو او پخپله امان الله خان هم سياسي فعاليتونو او سياسي قتلونو ته زور ورکړ. د ۱۹۳۳ کال د جون پر شپږمه سيد کمال، چي په جرمني کي يي تحصيل کړی او په هغه هيواد کي اوسېدی، په جرمني کي د افغانستان سفير سردار محمدعزيز خان، د سفارت په ودانی کي. وويشت او وواژه. جرمنيانو هغه افغانستان ته ونه سپاره؛ څه باندي يو کال وروسته يي د جولای پر شپږمه په اعدام محکوم کړ او د ۱۹۳۵ کال د جنوري پر څوارلسمه يي اعدام کړ .

سيدکمال په جرمني کي د سمينتو جوړولو په ځانګه کي خپل تحصيل پای ته رسولی، او د افغانستان خواته يي حرکت کړی وو، چي په افغانستان کي اماني نظام سقوط وکړ. سيد کمال په ايتاليه کي د افغانستان د سفير، سيدقاسم خان، پر دي مشوره چي په افغانستان کي د اوضاع تر معلومېدلو پوري په روم کي پاته سي غوړ ونه نيوی او د خپلو ملګرو سره يو ځای هند او وروسته کندهار ته، چي امان الله خان د پاچاهی د بيرته نيولو لپاره عمليات پيل کړي ول، ځان ورساوه. شنسب ص ۵۳

سيد کمال د غزني په محاصره کي د امان الله خان له ماتي وروسته په ټوله لار کي د امان الله خان ملګری وو او د مارسيز په بندر کي يي له هغه سره خدای په اماني وکړه. امان الله خان يو څه جيب خرڅ هم ورکړ او سيد کمال جرمني ته ولاړ. هغه کتاب ص ۹۶

سيد کمال، څه موده وروسته، د امان الله خان لپاره د سياسي فعاليتونو او له هغه سره د سلا مشورو لپاره، روم ته ولاړ. د امان الله خان سره د سيد کمال د ملاقات او نتيجي په باب څه ليکل سوي نه دي، خو هغه د امان الله خان په طرفداری کارته دوام ورکړ. هغه کتاب ص ۱۰۶

طبيعي خبره ده چي دا ټول اطلاعات به د افغانستان استخباراتو ته، چي په اروپايي هيوادونو کي يې، د خپلو سفارتونو له لارې، شبکي درلودلي، رسېدلي وي او د سيد کمال په لاس به يې د نادرشاه د ورور عبدالعزيز خان د قتلېدلو څخه وروسته د دواړو کورنيو ترمنځ د اختلاف او دښمنی اور نور هم تازه کړی وي.

امان الله خان د دې موضوع حساسيت ته متوجه وو او هيڅ څرګنده مداخله يې ونه کړه.اميرالدين شنسب، چي د سيد کمال شخصي ملګری وو او له هغه سره يو ځای د امير امان الله خان سره اوږه پر اوږه چنګېدلی وو، له دې امله سخت ګيله من دی او وايي چي امان الله خان، غلام صديق خان او شجاع الدوله خان، چي ټول په اروپا کي ول، او ښې شته منی يې درلودلي سيدکمال يوازي پرېښود، هيڅ مرسته يې ورسره ونه کړه؛ هغه ته يې يو مدافع وکيل هم استخدام نه کړ او هغه بالاخره دعوه بايلوده او اعدام سو. هغه کتاب ص ۱۴۱

له دې پېښي څخه پوره درې مياشتي وروسته محمدعظيم ، د سفير مکوناچي د وژلو په منظور، په کابل کي، د برتانيي سفارت ته ننووت او درې تنه يې وويشتل او ټپيان يې کړل. د کابل حکومت ډېر چټک اقدام وکړ. محمدعظيم يې اعدام کړ، له هغه سره يې محمدولي خان او د غلام نبي خان چرخي ورور غلام جيلاني خان، چي په دې وروستی پېښه کي يې هيڅ ډول لاس نه درلود، اعدام کړل او يو شمېر کسان يې ونيول. آدمک ص ص ۱۹۶-۱۹۷

په داسي حال کي چي د ډيورنډ د پولي پر دواړو غاړو، کابل، ولاياتو او اروپاکی د نادرخان او د هغه دکورنی پرضد تبليغاتو او دسيسو زور اخيستی وو امان الله خان د ۱۹۳۳کال د جولای په مياشت کي استانبول‌ته سفر وکړ؛ ښې ډېري ورځي يې تېري کړې؛ دترکيي له جمهوررئيس مصطفی کمال اتا ترک سره يې څو ځله وکتل او افغانستان ته د بېرته تللو په اړه يې د مصطفی کمال څخه مرسته وغوښتله. مصطفی کمال وويل چي شوروي د امان الله خان له طرفدارانو سره مرستي وکړي نو ترکيه به هم خپلي مرستي ونه دريغوي. مګر څرنګه چي ستالين پوځي مرستي ته تيار نه سو نوترکيي هم سوړ عکس العمل وښود. دې دواړو هيوادونو نه غوښتل چي د امان الله خان سره دمرستي کولو په بدل کي‌د انګرېزانو دښمني په بيه واخلي. تيخانوف ص ص ۲۷۱-۲۷۲

د ۱۹۳۳ کال د نومبر پر اتمه د نجات د لېسي عبدالخالق نومي شاګرد، نادرشاه په داسي وخت کي په توپنچه شهيد کړ چي هغه متعلمينو ته انعامونه وېشل او شهادت نامي يې ورکولي. مورخين پر دې خبري اتفاق سره لري چي عبدالخالق د غلام نبي خان چرخي په کورنی کي لوی سوی او د چرخي د کورنی له ماشومانو سره يو ځای ښوونځي ته تللی وو. د نادرشاه له وژنه کېدلو سره يو ځای، لکه څرنګه چي انتظار يې ايستل کېدی، د استبداد اوږ دهشت نوی څپه پيل سوه. د عبدالخالق ټوله کورنی او ځيني نيژدې ملګري او هم صنفيان او د چرخي د کورنی ځيني غړي اعدام سول او په لس هاوو کسان د بنديخانو شومه سول.

دا وخت سردار هاشم خان د هيواد شمالي سيمو ته تللی وو او د حربيي وزير شاه محمودخان، د وضع د خرابېدلو د مخنيوي لپاره، سمدستي د نادرشاه اته لس کلن زوی محمدظاهر پر تخت کښېناوه او د محمدظاهرشاه په نوم يې بيعت ورته غونډ کړ.

د نادرشاه د وژل کېدلو خبر په هغه ورځ په ټوله نړۍ کي خپور سو. امان الله خان د رويټر خبري آژانس ته وويل چي که چېري د افغانستان خلک وغواړي نو دی په خپل ټول توان او طاقت د وطن خدمت کولو ته تيار دی او زياته يې کړه چي نه سي کولای د نادرشاه په مرګ تر يوې اندازې خوښي ښکاره نه کړي مګر په عين حال کي د افغانستان د پاچا په وژل کېدلو خواشينی دی. تيخانوف ص ۲۷۴

محمدصديق خان چرخي څو ورځي وروسته له امان الله خان څخه وغوښتل چي په افغانستان کي د خپلو طرفدارانو سره د تماس ټينګولو او د ظاهرشاه پر ضد د تبليغاتو په منظور په هيواد کي دننه د يوې پټي چاپخاني لپاره ترتيب ونيسي. هغه کتاب هغه مخ

هاشم خان، چي د نادرشاه له وژل کېدلو څخه وروسته، څوارلس کاله د افغانستان اصلي واکمن وو، هيڅ وخت د امان الله خان د له منځه وړلو له پلانونو څخه لاس وانه خيست. د نادرشاه ياور الله نوازخان ته يې د امان الله خان د له منځه وړلو وظيفه ورکړه

او دغه راز یې مکې معظمې ته، چې امان الله خان د حج نیت درلود، خپل سړي ولېږل. د ۱۹۳۴ کال په لومړۍ نیمایی کې شوروي استخباراتو د هاشم خان دسیسې شنډې کړې. هغه کتاب ص ۲۷۵

دغه راز امان الله خان هم د بیرته پاچا کېدلو له تلاښ څخه لاس وانه خیست او تر ۱۹۴۸ کال پورې یې، چې بالاخره یې ظاهرشاه ته رسمي بیعت نامه را ولېږله، تلاښونه کول. د امان الله خان ملګرو د افغانستان څخه بهر، په لیرې او نیژدې ښارونو، برلین، استانبول، بغداد، مکه، تهران، مشهد، کربلا، بمبیی، کوټه او پېښور کې ډېرې لویې او پراخې شبکې فعالې کړې وې او یو ځل خو د برتانیې استخباراتو رپوټ ورکړ چې که امان الله خان اویا دهغه یو نیژدې ملګری د پښتنو قبایلي علاقې ته ځان ورسوي نو دا به د حاکمې کورنۍ د نسکورېدلو معنی ولري. تیخانوف ص ۲۷۸

صدراعظم سردار هاشم خان هم بېکاره نه وو ناست، او د امان الله خان د له منځه وړلو لپاره یې خپلې ټولې استخبارتي شبکې فعالې کړې وې. هغه څو ځله د امان الله خان د وژلو لپاره سړي واستول، خو شوروي استخباراتو، په تېره بیا ستالین، چې د امان الله خان د سر د ساتلو ذمه یې وهلې وه، هر ځل هغه ته اطلاع ورکوله او د سردارهاشم خان دسیسه به یې شنده کړه. هغه کتاب ص ص ۲۷۵-۲۷۶

مرحوم غبار، ظاهرشاه ته، د امان الله خان د بیعت کولو او د پاچهی د بیرته نیولو د فعالیتونو څخه د لاس پر سر کېدلو د اقدام په باب داسې احساساتي تحلیل کوي چې د ده له نامه او شهرت سره نه ښایي. مرحوم غبار لیکي:

»امان الله خان د افغانستان په داخل کې د انګرېزانو په وسیله له قدرته لیرې سو او په خارج کې د دښمن تر څار لاندې وو. هغه ته یو ځل زهر ورکړه سوه او دغه راز له سخت مالي مشکل سره مخامخ سو. او انډول یې له لاسه ورکړ او ظاهر شاه ته یې بیعت وکړ او له مبارزې څخه یې لاس واخیست. دا کار یې په داسې وخت کې وکړ چې انګرېزان د هند له نیمې وچې څخه وتلي ول او د افغانستان او پښتو نستان خلک د هغه هرکلي ته تیار ول، او نوم یې په پاکستان او هندوستان کې زمزمه کېدی. کله چې دی ظاهرشاه ته تسلیم نو په خارج کې د وطن پالونکو افغاني مبارزینو سیاسي موجودیت ختم سو. او په داخل کې باقي پاته منورین په دې باور سول چې د ملي او مترقي مبارزو په لار کې د شاه او شهزاده پر اشرافي طبقه باندې تکیه کول اشتباه ده؛ او رېښتونې مبارزه هغه ده چې د کښتني طبقې او ټولني له خوا پیل سيِ» غبار جلد دوم ص ۱۰۳

دا تحلیل نه یوازې دا چې تاریخي نواقص لري، پر دې واقعیت باندې سترګې پټې پټې سوي دي چې په افغانستان کې د کښتني طبقې مبارزه او رهبري نه په پخوا کې او نه په معاصر تاریخ کې سابقه لري بلکه د میرویس خان څخه نیولې، تر احمدشاه بابا، وزیر اکبرخان، میرمسجدي خان، غازي عبدالله خان، محمدشاه خان جبارخیل، امین الله خان لوګري، محمدجان خان وردګ، د میوندفاتح ایوب خان او ... پورې ټول شهزاده ګان او اشراف ول. هر یوه په خپل وخت کې د استقلال لپاره هلې ځلې کړې او ځیني یې د مرګ تر پولې جنګېدلي دي.

دغه راز، که د مرحوم غبار دا خبره ومنو چې د افغانستان او پښتونستان خلک د امان الله خان هرکلي ته تیارول، نو افغانستان ته د هغه له احتمالي راتګ سره به د نادرخان د کورنۍ د منظمو پوځونو او د امان الله خان د طرفدارانو تر منځ په جنګونو کې څه ښارونه او کلي تباه سوي او څه په زرهاوو سرونه رغړېدلي وای او لا معلومه نه ده چې دې تباه کونکي جنګ به څونه دوام کړی او د چا په ګټه پای ته رسېدلی وای. زما په عقیده امان الله خان، د یوه وطن پالونکي افغان په حیث، ډېر پر ځای اقدام کړی او لا یې باید پخوا کړی وای.

## د نادرشاه شخصیت او اصلاحات:

نادرشاه، لکه څرنګه چي د جنګونو په میدانونو کي ثابته کړه چي د افغانستان د تاریخ د تر ټولو تکړه جنرالانو څخه وو، د اداري، سیاست او د هیواد د آبادی او ترقی په لاره کي خپل لیاقت وښود. د نادرشاه د شخصیت له قوت څخه د هغه ډېر سخت مخالف لیکوال فرهنګ هم انکار نه سي کولای او لیکي چي محمدنادرشاه له جسماني لذتونو سره چنداني علاقه نه درلوده او پر خپل نفس باندي غالب وو. د همدغو خصوصیاتو له برکته یې هم د آمرانو، هم د همکارانو او هم د عامو خلکو باور تر لاسه کولای سو. فرهنګ دوهم ټوک ص ۶۲۳

لودویک آدمک د امان الله خان او نادرشاه شخصیتونه ډېر ښه مقایسه کړي دي او لیکي: نادرشاه او د هغه ورونه د امان الله خان او د هغه د مهمو طرفدارانو په څېر ول. دوی ټول د ترقی او د هیواد د عصري کولو طرفدار ول. او د افغانستان لپاره یې یو شان نظر درلود. البته نادرشاه تر امان الله خان یو څه واقع بین وو. نادرشاه ته دا خبره څرګنده سوې وه چي افغانستان، تر هرڅه مخکي، یوه عصري او په ښو وسلو سمبال پوځ ته اړتیا لري، څو د هغه په وسیله د قبایلو پر زور او قوت باندي تکیه کمه کړي او قبایل دې ته پرې نه ږدي چي د اصلاحاتو په مخنیوي کي اغېزه ولري. دواړه پاچاهان ډېر لوی وطن پالونکي ول او دواړو د افغانستان لپاره یو مشترک ارمان درلود؛ خو هغه ارمان ته د رسېدلو پر لارچارو باندي یې اختلاف درلود. آدمک ص ۱۹۹

مخکي مو ولوستل چي نادرشاه په داسي شرایطو کي قدرت ته ورسېدی چي نه په خزانه کي یوه پیسه وه او نه یې منظمه پوځي قوه درلوده. هغه خپله لنډه څلور کلنه دوره د دریو او حتی څلورو لویو او خطرناکو قبیلوي او قومي ښورښونو په ځپلو تېره کړه؛ او له لومړۍ ځوانی، په تېره بیا د قدرت په کلونو کي، هره ورځ د سیاسي رقیبانو سره مخامخ وو،خو له خپلو ټولو سیاسي او نظامي ستونزو سره سره یې د افغانستان د عصري کولو او پر مخ بېولو کار، چي د ده د ژوند ارمان وو، پرې نه ښود .

د مرحوم غبار د دې ادعا په خلاف چي وایي نادرخان د معارف د پراخېدلو مخنیوی کاوه، ځکه چي پر بېسواده او جاهل ملت باندي حکومت کول اسانه کار وو او دغه راز یې په لوی لاس د هیواد د صنعتي کېدلو او سمسورېدلو مخه نیوله، تر څو خلک د خپلو شخصي ستونزو او لوږي له لاسه د حکومت او سیاست په باب فکر کولو او مبارزې کولو ته وخت او فرصت پیدا نه کړي، غبار ص ۴۷ نادرشاه، تر هر څه مخکي د معارف پراخولو ته توجه وکړه او د هیواد د اقتصادي پر مختیا او عصري کولو خواته یې توجه واړوله .

پر دې حقیقت باندي د نادرشاه مخالف لیکوال فرهنګ هم سترګي نه سي پټولای او لیکي چي په دې زمانه کي د اقتصاد په برخه کي هم تازه ګامونه واخیستل سول چي تر ټولو مهم یې د کابل او د هیواد د شمال ترمنځ د دره شکاري د سړک جوړول او د شرکت سهامي، چي وروسته بانک ملي سو، تاسیسول وه. فرهنګ وروسته لیکي چي د هندوکش په شمال کي د دې لارې په جوړېدلو سره، حکومت بشپړ تسلط تر لاسه کړ او د شمال د منطقو، په تېره بیا د پنبې او لبلبو د کرني لپاره ښه زمینه برابره سوه. فرهنګ ص ص ۶۲۰-۶۲۱

نادرشاه په ۱۹۲۹ او ۱۹۳۰ کلونو کي شته من خلک په زور مجبور کړل چي په شمال کي، د قندوز په ولایت او شاوخوا علاقو کي ارزانه مځکي واخلي او هلته پنبه وکري. نادرشاه غوښتل په دې توګه هم د پنبې کښت او کروندي ته وده ورکړي او هم خپله هغه خزانه چي د داخلي جنګ او وروسته لوټمار په وخت کي تشه سوې وه ډکه کړي. خلکو جبه زار د زیم له اوبو خالي کړ او په سیمه کي، هم د زور او هم د تشویق له لارې، د پنبې کښت او صنعت وده وکړه. دوپرې ص ۴۷۴

د نادرشاه حکومت د تجارت د تشویقولو په منظور تاجرانو ته بې له سوده پیسي په پور ورکولې. د اوبدلو کارخانې فعالي سوې. د ایټالوي او جرمني انجنیرانو په سرپرستي،د اوبو شپږ بندونه جوړ سول، چي ۹۵ زره ایکره مځکه یې خړوبه کړه. د تجارت لپاره د اسانتیاوو د برابرولو په منظور نوي سړکونه جوړ سول. تر ۱۹۲۸ کال پوري په هیواد کي د یوولس سوو میلو په

اوړدوالي سړکونه موجود ول او په ۱۹۳۴ کې یې اندازه اته لس سوه میله ته ورسېده، او پنځه سوه میله نور سړکونه تر کار لاندې ول. محمدعلي ۲۲۰-۲۲۱

نادرشاه، د خپلې لنډې پاچهۍ په لومړي کال د اساسي قانون د ترتیبولو او په لویه جرګه کې د منظورولو، د تجارت او صنعت ودې ته د توجه کولو او د پوځ د بیرته تنظیمولو تر څنګ، تر هر څه زیاته توجه د عصري تعلیم او تربیې خواته واړوله. هغه سمدستي ښوونځي پرانیستل البته د نجونو ښوونځي یې، په ټولنه کې د عکس العمل له وېرې، تر یو څه وخته پورې وځنډول او وروسته یې د ملالی په نوم د نجونو ښوونځي هم پرانیستله. د طب پوهنځی یې، چې وروسته په هیواد کې لومړنی پوهنځی سوه، پرانیستله. په پوهنځي کې شلو فیصده هلکانو ته د وړیا کتابونو او موادو د تهیه کېدلو ترڅنګ میاشتنی تنخواوې هم ورکولې کېدلې. دغه راز د حبیبیې د لیسې شاګردانو ته، پرته له استثناء، په لومړي کال د میاشتې شل افغانی، په دوهم کال دېرش افغانی او په دریم کال د میاشتې څلوېښت افغانی تنخوا ورکوله کېدله. د پوهنځي محصلینو ته د میاشتې پر پنځوس افغانی تنخوا برسېره، وړیا ډوډۍ او لباسونه هم ورکول کېدل. د پوهنې وزارت مجهز کلینیک درلود چې لایقو ډاکټرانو کار پکښې کاوه. د ښوونځیو شاګردان یې ټول معاینه کول او، د ناروغی په صورت کې یې، وړیا تداوي کول. هغه کتاب ص ص ۱۸۵-۱۸۶

د هغو کسانو لپاره چې د خارجي ژبو د زده کړې سره یې علاقه درلوده، د شپې کورسونه جوړ سول چې خلکو ته یې، په وړیا توګه، جرمني، فرانسوي او انګلیسي ژبې ښودلې او ښه نتیجه یې ورکړه. هغه کتاب ص ۱۸۹

نادرشاه، د ښوونځیو او ځوانانو په ارتباط، په ۱۹۳۱ کال کې یو فرمان صادر کړ او د انجمن کشافان په نوم یې د افغان ځارندویانو انجمن جوړ کړ. د دې انجمن ریاست یې، ولیعهد شهزاده ظاهرخان ته ورکړ. دې ا نجمن تر ۱۹۳۲ کال پورې زر غړي درلودل؛ او په همدغه کال یې د ځارندویانو د بین المللی ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ. په ۱۹۳۲ کال کې یې د سردار شاه محمودخان په ریاست، د ملي اولمپیک انجمن جوړ کړ او په ۱۹۳۴ کال کې دهلي ته او په ۱۹۳۶ کال کې یې برلین ته د لوېدیځې اسیا د اولمپیک لوبو ته ځوانان واستول. دا د بین المللي ورزشکارانو سره د افغانانو لومړنی تماس وو.

د نادرشاه په وخت کې، دغه راز د کلتور او هنر د ودې په اړه هم ښه پرمختګونه وسول. د کابل میوزیم ترمیم سو او په کندهار، هرات او مزار شریف کې واړه میوزیمونه جوړ سول. عامه کتابخانې جوړې سوې او په کندهار او هرات کې ادبي ټولنې تاسیس سوې، چې لیکوالو او هنرمندانو ته یې د جایزو په ورکولو سره د ادبیاتو او هنر د ودې په اړه ډېر زیات کار وکړ. ګریګوریان ص ص ۳۱۰-۳۱۱

د اعلیحضرت نادرشاه د کلتوري خدمتونو په برخه کې باید دا خبره وکړو چې هغه د افغانستان په تاریخ کې لومړنی پاچا وو چې د پښتو ژبې ودې او علمي کولو ته یې رسمي توجه وکړه. په کندهار کې د هغه وخت د رییس تنظیمه پښتون مشر او لیکوال محمدګل مهمند په مشرې د پښتنو یو انجمن جوړ سو او د پښتو په نوم یوه میاشتنی مجله یې، چې علمي، ادبي، اجتماعي او تاریخي مضامین پکښی خپرېدل، چاپ ته وسپارله. په دې علمي او ادبي مجله کې د کندهار او شاوخوا سیمو څخه نیولې تر کابل، مشرقي او لرې پښتونخوا پورې لیکوالانو او شاعرانو برخه واخیستله او په زړه پورې او د یادونې وړ خبره دا ده چې د لرې او برې پښتونخوا د پښتنو مضامین د هغوی په خپله لهجه او لیک دود ورته چاپېدل. یعنې په دې مجله کې خبره یوازې د پښتو ژبې وه او دا مهمه نه وه چې پښتو په کومه لهجه لیکله سوې ده. پر دې برسېره، د لومړي ځل لپاره، د حکیم بیربل په نوم یوه هندو طبیب او د طالب حسین په نوم شیعه لیکوال او شاعر فعاله برخه درلوده. یعنې په مجله کې پرته له هیڅ ډول مذهبي او قومي تعصب څخه د هر چا افکارو ته انعکاس ورکول کېدی. دې مجلې په کندهار کې پوره یو کال خپروني وکړې او یو کال وروسته چې مرکه د پښتو یا د پښتنو انجمن کابل ته انتقال سو نو هلته یې د پښتو مجلې پر ځای د کابل مجلې په خپرولو پیل وکړ، چې تر ډېره وخته پورې یې تقریبا ټول مضامین په فارسي ژبه وه.

ښځایه یې نه بولم چې د پښتو د یادي سوي مجلې له لومړۍ ګڼې څخه د حکیم بیربل د لیکلې وینا د متن یوه برخه راوخلم. هغه وزیرمحمدګل خان ته په خطاب کې وایي: زموږ محترم ګران منلی او ښاغلی وزیر صاحب !

زه د اهالي څخه د قندهار کوم یو سړی یم په نسبت د شکر د دې مجلې د ټولو هندوانو له خوا چې مطیعان د افغانستان دی خصوصا د قندهاري هندوانو له خوا اظهار د شکر کوم. موږ خلق چې په دې وطن کې هستوګنه کوو او افغانستان مو خپل وطن دی په سبب د خلطیت د پښتانه او ټینګ محبت چې له پښتنو سره یې لرو علاوه پر هغه خپلې زړې ژبې مو دا ملي ژبه زده کړې ده، بلکه لغات او کلمات د دې ژبې زموږ د هغې زړې ژبې سره ګډ شوي دی. نو په صداقت وایو چې د پښتو او پښتنو سره زموږ محبت ورځ پخ ورځ ډېرېږي. اکثر زموږ خلق چې په لیک او کتابت پوهیږي ټوله یې لیکلای او هم یې ویلای شي. پښتو مجله لومړۍ ګڼه ۲۸-۲۹ مخونه

یو شی چې نادرشاه هر وخت، په تېره بیا د اجتماعي او فرهنګي اصلاحاتو د عملي کولو لپاره، ضرورت ورته احساساوه هغه د یوه منظم او قوي پوځ درلودل وه. د پاچا کېدلو سره سم یې ټولو پوځیانو ته د شلو افغانیو په عوض کې پنځه ویشت افغانی او راشن حواله کړ. د پوځ پر مرکزي روغتون برسېره، په هره قطعه کې یو کلینیک موجود وو او په پوځي ښوونځي او پوهنځي کې یې لایق خارجي استادان په کار وګومارل. محمدعلي ص ۱۸۴ د قدرت په لنډه موده کې یې د منظمو پوځیانو شمېر څلوېښتو زرو ته ورساوه او په هغه پوځي قوه یې درې لوی قومي او قبایلي ښورښونه کرار کړل. ټیټلر ص ۲۳۱

له نادرشاه سره برتانیې ۱۷۵ زره پونډه نغده بې عوضه مرسته وکړه او دغه راز یې لس زره ټوپک او پنځه لکه مرمی ورکړې. جرمني پنځه زره ټوپک او نیم میلیون کارتوس په پور ورکړل، دغه راز یې له برتانیې څخه پنځه زره ټوپک رانیول او له فرانسې څخه یې شپاړس زره ټوپک او تقریبا دوه میلیونه مرمی واخیستلې. نادرشاه غوښتل چې د خپل پوځ شمېر سلو زرو منظمو پوځیانو او دوولس زره احتیاط ته ورسوي او تل به یې ویل چې د پوځ وظیفه د افغانستان د ملي یووالي ساتل او د ترقی او پر مختګ د پروګرامونو ملاتړ دی. په کابل کې یې د پوځي ښوونځی فارغانو ته په یوه وینا کې وویل زه هیله لرم چې افغانستان به داسې غښتلی پوځ ولري چې د دوستانو په شمله کې به ګل او د غلیمانو په سترګو کې به اغزی وي. داسې پوځ چې زموږ په هیواد کې به سوله تامین او نیکمرغي تضمین کړي. ګریګوریان ص ص ۲۹۷-۲۹۸

د نادرشاه په لنډه څلور کلنه دوره کې، چې په تش لاس قدرت رسېدلی او د قبایلو او اقوامو د ښورښونو او سیاسي ستونزو په غېږ ورغلی وو، د تجارت او پانګې اچونې په ساحو کې دونه پرمختګونه وسول چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساری نه وو لیده سوی .

افغان سهامي شرکت، چې په ۱۹۳۰ کال کې جوړ سوی وو، په ۱۹۳۲ کې یې نوم بانک ملی سو. د دې بانک لومړنی پانګه پنځه دېرش میلیونه افغانی وه او وروسته ۶۳ میلیونه افغانی سوه. د دې بانک موسس یو شته من تاجرعبدالمجید زابلي وو. د افغانستان حکومت د بانک له تاسیسېدلو څخه وروسته وکړای سول چې د ۱۹ میلیونو افغانیو په ارزښت د پنځو، لسو، شلو، پنځوسو او سلو افغانیو نوټونه چاپ کړي. هغه کتاب ص ۳۱۵

د ۱۹۳۲ او ۱۹۳۴ کلونو ترمنځ، د بانک ملي په تشویق، تقریبا دېرش لوی سهامي شرکتونه جوړ سول. په کابل کې د قره قل د پوستکو ځیني لوی شرکتونه ، د صابرشرکت د شپږو میلیونو افغانیو په پانګه، توکل د یومیلیون افغانیو، برادران د یو میلیون افغانیو، قناعت د یو میلیون او دوه نیم لکه افغانیو او کوشش د یو نیم میلیون افغانیو په پانګه جوړ سول. د افغانستان په شمال کې یو شمېر شرکتونه جوړ سول چې هغوی هم د پسونو پوستکي صادرول: ایبک، سلامت، سعادت، صداقت، اخلاص او د میمنې شرکتونو ټولو، هر یوه، یو میلیون افغانی او لا زیاتي پانګي درلودلې. د وارداتو تر ټولو لوی شرکت په کابل کې د تېلو شرکت وو چې د تېلو د واردولو او د تېلو له خارجي شرکتونو سره د انحصار حق یې درلود. نور لوی شرکتونه عبارت ول په هرات

کي د اطمینان په نوم شرکت، چي دوه نیم میلیونه افغانی پانګه یې درلوده او د وړیو او پسونو د پوستکو صادرات یې کنټرولول. اتحادیه شمالي شرکت د لسو میلیونو افغانیو په پانګه د قره قل پوستکي صادرول او سمینټ او نور مواد یې واردول. په کندهار کي د پښتون شرکت، د څه باندي یو نیم میلیون افغانیو په پانګه وچه مېوه صادرول. دغه راز یو شمېر دولتي صنایع لکه په جبل السراج کي د نساجي فابریکه او په کابل کي د اورلګیت جوړولو او څرمني کارخاني خصوصي پانګه والو ته په اجاره ورکول سوي وې .

د نادرخان حکومت د تجارت د تشویقولو او پراخولو په منظور په لندن، لیپزیک، ماسکو او پاریس کي تجارتي استازي مقرر کړل. هغه کتاب ص ص ۳۱۵-۳۱۶

نادرشاه د خپل قدرت په زمانه کي د خپلو قوي ګاونډیانو، برتانیې هند او شوروي اتحاد ترمنځ بېطرفي وساتله. هغه نه یوازي د افغانستان شمال ته راغلي باسماچیان تقویه نه کړل بلکه، په افغانستان کي، د شوروي اتحاد مداخلې ته د پلمې د جوړېدلو د مخنیوي په منظور یې له خپلې خاوري څخه وایستل او دغه راز یې د ډیورنډ د پولي پر پوري خوا  د قبایلو په چارو کي له ښکاره لاس وهني څخه ځان وژغوری. نادرشاه له دواړو ګاونډیو قدرتونو سره خپل دوستانه اړیکي وساتل که څه هم چي کابل ته د راغلو امریکایانو سره د لیدني پر وخت له وینا څخه یې په څرګنده ښکاري چي د دواړو ګاونډیو هیوادونو پر دوستي او نیتونو باندي شکمن وو. هغه راغلو امریکایانو ته بلنه ورکړه چي د افغانستان تر مځکي لاندي مواد را وباسي او هغوی ته یې وویل چي افغانستان د تېلو، د ډبرو د سکرو، مسو او نورو قېمتي شیانو او تجارتي موادو ښې ذخیرې  لري. ده هغوی ته وویل چي موږ نه غواړو د افغانستان دغه منابع په هغو اروپایي هیوادونو را وباسو چي پر افغانستان باندي د یرغل کولو نیتونه لري. هغه کتاب ص ۳۳۶

نادرشاه هم له برتانوي هند او هم له شوروي اتحاد څخه وخت ناوخته تخنیکي سلا مشورې ترلاسه کولې مګر په هیواد کي یې د دواړو  هیوادونو فعالیتونه محدود کړي ول. روسانو ته یې په افغانستان کي د تجارتي فعالیتونو اجازه ورنه کړه او دغه راز یې د برتانیې فعالیتونه هم په کلکه څارل. په ښوونځیو کي یې فرانسوي او جرمني ښوونکي استخدام کړي ول مګر د انګلیسي ژبي لپاره یې هندي ښوونکي په کار اچولي ول. د نادرشاه په پاچهي کي، په ټول افغانستان کي، د ډیپلوماټانو په شمول، یوازي اویا تنه اروپاییان اوسېدل. فرانسوي او جرمني ماهران او ایټالوي صاحب منصبان یې استخدام کړي ول مګر یو برتانوی یې هم نه وو استخدام کړی. هغه د قبایلو استازو ته وویل چي زما حکومت، تر نن ورځې پوري، هیڅ هیواد ته امتیازات نه دي ورکړي او تر څو چي زه ژوندی یم زما په لاسلیک به څوک امتیاز راڅخه وانه خلي. هغه کتاب ص ۳۳۷

نادرشاه د اروپا په برخه کي د امان الله خان پالیسي تعقیب کړه او غوښتل یې چي افغانستان د اروپایی هیوادونو لپاره پرانیزی. هغه، له برتانیې او شوروي اتحاد څخه پرته، له یو شمېر اروپایی هیوادونو سره بېل بېل تړونونه لاسلیک کړل. له یوه فرانسوي ژورنالیسټ سره په مرکې کي یې وویل چي موږ فرانسې ته، د امان الله خان په څېر، د یوه دوست هیواد په سترګه ګورو او هیله لرو چي، پر لرغون پېژندني برسېره، چي ښې نتیجې یې ورکړي دي، په هره ساحه کي مرستي راسره وکړي. ښوونکي، انجنیران او په هره څانګه کي ماهران را ولېږي چي زموږ سره د خپلو شته منیو څخه د ګټو اخیستلو په کار کي کومک وکړي. هغه کتاب ص ص ۳۳۴-۳۳۵

نادرشاه دغه راز غوښتل چي د جرمني له ماهرانو او مرستو څخه هم د هیواد په هره برخه کي کار واخلي. په ۱۹۱۵ کال کي، چي هینټیګ او نیدرمایر، له جرمني څخه، د یوه  لوی هیات سره، کابل ته راغلل او غوښتل یې چي امیر حبیب الله خان د جرمني او ترکیې سره لاس یو کړي او د برتانوي هند پر ضد په جهاد کي برخه واخلي، نادر خان د جرمني هیات د طرحي له طرفدارانو څخه وو او له برتانیې سره د جنګ پر خواوو. کله چي قدرت ته ورسېدی نو جرمني ته یې بلنه ورکړه چي خپل ماهران افغانستان

ته واستوي او د دې هیواد له منابعو څخه ګټه واخلي. ده وویل جرمني د نړۍ تر ټولو ښه ډاکټران، تر ټولو بهتر انجنیران، تر ټولو ښه عسکر او تر ټولي نړۍ تکړه پوځ لري خو افسوس چي ترټولو ښه سیاستمداران یې هم درلودلای. آدمک ص ۱۹۰

کله چي د جرمني سفیر هربرټ شوربل په ۱۹۳۳ کال کي له کابل څخه ولاړ نو وې ویل چي په افغانستان کي داسي ساحه نسته چي هلته دې جرمني ماهران نه وي. د نساجي له تولیداتو څخه واخله د توکمو تر جوړولو، سمینټوجوړولو، چاپخانو، نجاریو، رنګریزیو او موټرونو تر میمولو پوري په هره برخه کي جرمني ماهران کار کوي. هغه کتاب ص ۲۱۰

د نادرشاه په ابتکار، د طب د پوهنځي جوړېدل ډېر مهم کار وو، او په لنډ وخت کي د هیواد د خلکو صحي اړتیاوو ته یو څه توجه وسوه. ځینو روغتونونو د طب د پوهنځي سره پیوستون وکړ او له لابراتوارونو څخه یې ګټه اخیستله. په دې برخه کي یو مهم ګام د ایکسرې د ماشین فعاله کېدل او د هغه تر څنګ د دماغي ناروغانو لپاره روغتون، د غاښو کلینیک او د ښځو لپاره د روغتون جوړېدل ول. نادرشاه د نري رنځ د ناروغانو لپاره، د لومړي ځل لپاره، یو سناتوریوم جوړ کړ او هغه یې د خپل مخصوص ډاکټر ریفقي کامل اورګا په نوم، چي په کابل کي یې اته لس کاله خدمت وکړ، ونوماوه. دغه راز یې په دارلامان کي د ښځو لپاره یو بل سناتوریوم جوړ کړ. د نارینه وو سناتوریوم شل بستره او د ښځو سناتوریوم دېرش بسترونه درلودل. ګریګوریان ص ۳۱۳

څرنګه چي په علي آباد کي سناتوریم او د طب پوهنځي د نادرشاه پر خپله ځمکه او د هغه په شخصي لګښت جوړ سوي دي نو لازمه یې بولم چي د حافظ نور محمدکهګدای هغه یاداشت راواخلم چي د هغه زوی عزیزالله کهګدای د افغان جرمن آن لاین په سایټ کي خپور کړی دی: «علي آباد، چي په کابل کي د سخي د زیارت سره نیژدې موقعیت لري، د اشرف الوزرا شاه ولي خان بامیزایي د زوی مختارالدوله ملکیت وو چي شاه زمان وربخښلی وو. له ده څخه وروسته دا جایداد د هغه زوی غلام احمد ته په میراث ورسېدی. هغه دغه ځمکه خپلو زامنو غلام سرور، غلام نبي، غلام مصطفی، غلام رسول او غلام حبیب ته ورکړې وه. امیر عبدالرحمن خان، د بېلو بېلو علتونو له مخي له دوی څخه قلا، باغ او د علي آباد شاوخوا ځمکي ضبط کړې. په ۱۹۱۹ میلادي کال کي د وخت حکومت (اعلیحضرت امان الله خان جهاني) دغه سیمه اعلیحضرت محمدنادرشاه ته، د استقلال د ګټلو په وخت کي د خدمتونو له امله، وبخښله. نادرشاه پر هغه ځای باندي یوه درې پوړیزه وداني د رفقی سناتوریم په نوم د خپلو شخصي پیسو څخه اباده کړه. په دغه روغتون کي د ناروغانو لپاره شپېته بسترې او بشپړ لوازم موجود وه، او د روغتون په مقابل کي یې، د ناروغانو لپاره، یو لوی باغ هم جوړ کړ»

د نادرشاه د نظام تر ټولو لویه او مهمه ښېګڼه دا وه چي د سقاوي نظام له نسکورولو څخه وروسته، چي معلومه نه وه تر کله به یې داوم کړی وای، منځته راغلی او پر پښو درېدلی وو. نادرشاه، په تش لاس او بېله منظم پوځه، په داسي حال کي کابل ته ننوت چي سقاوي رژیم د هیواد ټولي تعلیمي، مالي او پر مختیایي پروژې له منځه وړي او د پایتخت هره برخه یې تباه کړې وه؛ خو هغه په خپله لنډه څلور کلنه دوره کي داسي مرکزي او قانوني نظام جوړ کړ چي د ده تر ناڅاپي وژل کېدلو وروسته هیڅ داسي محسوس حرکت ونه سو چي د نادري نظم د خرابېدلو سبب سوی وای .

په ټولنو کي ښورښونه معمولا د استبداد په مقابل کي د عکس العمل په توګه منځته راځي او کله کله یې لمن دونه پراخه سي چي غښتلي نظامونه نسکور کړي. مګر د نادرشاه استبداد، برعکس، د ښورښونو او مخالفتونو په مقابل کي عکس العمل وو. نادرشاه د کابل د نیولو او سقاویانو د نسکورولوڅخه وروسته د سقاویانو ځیني طرفداران او نیژدې کسان د قومي او سمتي مخالفتونو د کرارولو په منظور مقرر کړل. هغوی د همکاری پر ځای، په شمالي کي په دونه قوت، ښورښ پیل کړ چي د ښورښیانو شمېر پنځه ویشتو زرو ته ورسېدی. دغه راز د هیواد په شمال کي، د شوروي څخه د راغلیو مهاجرو باسماچیانو د مشر ابراهیم بیګ، چي هم یې پایتخت ته د راتللو په برخه کي د نادرشاه غوښتنه ونه منله، هم یې د مزارشریف د ولایت مرستیالي رد کړه او هم یې د وسلو د تسلیمولو څخه انکار وکړ، پرته له دې چي د پوځ او قبایلي جنګیالیو په زور ځپل سوی وای بله څه لاره درلوده.

په پکتیا کي د لېوني ملا د ښورښ د کړارولو لپاره خو شاه محمودخان د خبرو لپاره ورغی. کله چي خبرو ګټه ونه کړه او د ښورښ لمن پایتخت ته رسېدله، نادرخان له پوځي قوې څخه د کار اخیستلو پرته بله څه چاره درلوده؟

امان الله خان، د دوهم عمومي جنګ تر پایه پوري، د پاچهی د بېرته نیولو له تلاښونو څخه لاس وانه خیست او د نادرخان د رژیم د بدنامولو او نسکورولو لپاره یې له هري وسیلي څخه کار اخیست. له هغه سره، په بېلو وختونو کي، د شوروي اتحاد د مشر ستالین، د ترکیي د جمهورریس مصطفی کمال اتاترک، د ایټالیي د صدراعظم موسولیني، د ازادو قبایلو او غلجیو او په صوبه سرحد کي د خان عبدالغفار خان د سورکمیسو ملاتړ ملګری وو. دا د هغه وخت د تبلیغاتو اثر دی چي زموږ خلک، په تېره بیا منورین، نادرخان د انګرېزانو ګوډاګی بولي؛ په داسي حال کي چي د دې ادعا د ثبوت لپاره تر اوسه پوري چا هیڅ سند وړاندي کړی هم نه دی. او په مقابل کي ټول تاریخي شواهد او آرشیفونه ښیي چي نادرشاه مستقله اراده درلوده او د امان الله خان او نورو وطن پالونکو افغانانو په څېر، پر استقلال او ترقی مین، وطن پال افغان وو.

مرحوم غبار پر نادرشاه باندي د نورو ټولو تورونو لګولو تر څنګ دا خبره هم کوي چي د نادرشاه د خاندان هر غړي د اروپا په بانکونو کي په میلیونو ډالر ذخیره کړي دي. غبار ص ۱۰۲ دا چي مرحوم غبار به دا معلومات له کومه کړي وي زه څه نه سم ویلای خو زه مجبور یم چي خپل د سترګو لیدلی حال د لوستونکو د قیاس لپاره وړاندي کړم.

زه د ۱۹۸۳ کال د جولای د میاشتي په پای کي متحده ایالاتو ته راغلم او دلته مي د امریکا ږغ راډیو سره کار پیل کړ. ما په الیکزاندریه کي ژوند کاوه؛ او زموږ هستوګنځي ته نیژدې، د اعلیحضرت محمدظاهرشاه مشره مړور مېرمن خاتول په هالي ډې این هوټل کي مزدوره وه ، تشنابونه یې پاکول او د مېلمنو بسترې به یې جوړولي. تر هغه ځایه چي زه خبر یم دې کار ته یې لږترلږه لس کاله نور دوام ورکړ. د ظاهرشاه لمسی، د والاحضرت احمدشاه زوی، ظاهر نومېدی او د نورو عادي افغانانو د اولادونو په څېر یې، د مکتب څخه له رخصتېدلو وروسته، د مک ډانلډ په رستوران کي، تر ماښامه کار کاوه. ما پخپله لیدلی او شخصا مي پوښتنه ورځخه کړې او احوال یې راته ویلی دی؛ اوس نه یم خبرچي چېري به وي. شهزاده احمدشاه پخپله، تر دې وروستیو وختونو پوري، د حکومت په مرسته، یوه اپارتمان کي ژوند کاوه او په لومړیو شپو ورځو کي یې، د څو پیسو د ګټلو او ابرومندانه ژوند کولو لپاره، دوه درې ځله د ټکسي چلولو تصمیم ونیوی خو د ویرجینیا په ایالت کي اوسېدونکو محمدزیو منع کړ او تل به یې ورته ویل چي دا د هغوی د حیثیت او آبرو مسله ده؛ دی چي هر څه ته ضرورت لري هغوی به یې ورته برابروي. د ظاهرشاه دوهم زوی نادر د کاناډا په ټورنټو کي د پیزې پخولو په یوه دوکان کي، څه باندي شل کاله مزدور وو؛ او دا مي لا هم اورېدلي چي کله کله به یې د پیسو په بدل کي ګیتار هم ږغاوه. څوک چي سل زره ډالره ولري، پر خپل ځان اولاد او مېرمني به، په یوه پردي هیواد کي دغه ډول د ذلت او خواری ژوند څرنګه ومني. په داسي حال کي چي زموږ مورخین او منورین وایي چي د نادرشاه د کورنی هر غړي په بهرنیو ملکونو کي په میلیونونو ډالر ذخیره کړي ول.

د سردار نعیم خان زوی عزیز نعیم، چي د حقوقو د پوهنځی یو لایق استاد وو، تر مرګه په لندن کي، په یوه عادي اپارتمان کي ژوند وکړ. د سپه سالار شاه محمودخان زوی، سلطان محمود غازي، د خپلو نورو خپلوانو په څېر په ویرجینیا کي په یوه عادي اپارتمان کي ژوند کاوه. زه یې څو ځله کورته ورغلی یم او د هغه عادي فقیرانه ژوند مي له نیژدې لیدلی وو.

## مأخذونه


مبارز، عبدالحمید. تحلیل واقعات سیاسي افغانستان. چاپ ۱۳۷۵( ۱۹۹۶)
۲ غبار، میرغلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ، جلد دوم. چاپ ۱۹۹۹ ویرجینیا، ایالات متحده.
۳ فرهنګ، محمد صدیق. افغانستان در پنج قرن اخیر، در سه جلد. سال و مکان چاپ نامعلوم.
۴ شنسب، امیرالدین. خاطرات هشتاد سال زندګي یک افغان. چاپ دوم ۱۳۸۰(۲۰۰۱) پېښور
۵ آقابکف، ژورژ سرګیویچ، خاطرات آقابکف. ترجمه ډاکتر حسین ابوترابیان. ۱۳۵۷( ۱۹۷۸) تهران
۶ انیس، محی الدین. بحران و نجات. چاپ دوم، ۱۹۹۹مرکز نشراتي میوند

٧ کاتب، ملافیض محمد. تذکرالانقلاب. ٢٠١٣ جرمني
٨ مجددي، عبدالحق. افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر. ١٩٩٩ پېښور
٩ تیخانوف، یوري. نبرد افغاني ستالین. ترجمه عزیز آریانفر. انترنیټ
١٠ راز های سر بمهر. تهیه دانشمندان اتحاد شوروي. ترجمه عزیز آریانفر. انترنیټ
١١ بویکو، ولادیمیر. دولت و اپوزیسیون درافغانستان. ترجمه عزیز آریانفر. چاپ ٢٠١١ انتشارات میوند
١٢ نوید، سنزل. واکنش های مذهبي و تحولات اجتماعي در افغانستان. ترجمه محمدنعیم مجددی. ٢٠٠٩ انتشارات احراري هرات
١٣ کشککي، برهان الدین. نادرافغان. ١٩٣١ مطبعه دولتي کابل.
١۴ خان عبدالولي خان، باچا خان او خدایي خدمتګاري. لومړی ټوک. ١٩٩٣ پېښور.
١۵ شاه ولي خان، مارشال. یاداشت های من. چاپ پنجم . مطبعه دولتي کابل

١٦ Tendulkar, D.G. Abdul Ghafar Khan. ١٩٦٤New Delhi
١٧ Gregorian, Vartan. The Emergence of Modern Afghanistan. ١٩٦٩California.
١٨ Adamec, Ludwig. Afghanistan's Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century. ١٩٧٤U.S.A
١٩ Dupree, Louis. Afghanistan. ١٩٨٠U.S.A
٢٠ Tytler,W.K.Fraser. Afghanistan, A Study of Political Developments. ١٩٦٧Oxford University.
١٩٦٧Oxford University Press.
٢١ Mohammad Ali, Professor. Progressive Afghanistan. ١٩٣٣Lahore.
٢٢ Poulada, Leon B. Reform and Rebellion in Afghanistan. ١٩٧٣Cornell University U.S.A
٢٣ Stewart, Rhea Tally. Fire in Afghanistan. ١٩٧٣New York.
٢٤ Swinson, Arthur. North West Frontier ١٩٦٧ London.


**** **** ****

اعلیحضرت محمد نادرشاه (ځلورمه برخه)
jahani_a_bahari_s_m_moh_nadershah_٤.pdf

قسمت های اول، دوم و سوم این نوشته را با کلیکی بر لینک های زیر مطالعه می توانید

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/jahani_a_bahri_s_m_moh_nadershah_١.pdf
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/jahani_a_bahari_s_m_moh_nadershah_٢.pdf
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/jahani_a_bahari_s_m_moh_nadershah_٣.pdf